محمد ابراهيم شينواری ۲۰۱۳/۰۲/۱۷

# د افغان کلتوری تولنو جرگه

**بسم الله الرحمن الرحيم**

ملګري ملتونه هر کال د فبروري ۲۱ د مورنی ژبي نړيواله ورځ لمانځي. څېړنو ثبوت کړې ده چي د مورنی ژبي پر بنسټ ځو ژبي ښوونه او روزنه د با کيفيته زده کړي اساس دی او له ښوونځي څخه د ماشوم د مورنی ژبي ايستل د ماشوم ايستل دي. د افغان کلتوري تولنو جرګه په همدې مناسبت لاندي معلومات له ګرانو هيوادوالو سره شريکوي

## د مورنی ژبي نړيواله ورځ ـ د ۱۳۹۱ کال د حوت دريېمه (د ۲۰۱۳ کال د فبروري ۲۱)

**د دي ليکني موضوعات**

١) د مورنی ژبي نړيوالي ورځي تاريخچه
٢) د مورنی ژبي ارزښت
٣) قانونيت: اسلامي او ملي احکام
٤) د نړيوالو قوانينو له مخي د ژبي ارزښت
٥) ماشوم ته يي (پيداګوژيکي او اروايي)ګټي
٦) د نورو هيوادونو تجربي
٧) د افغانستان واقعيتونه او ستونزي
٨) حل لاري او وړانديزونه
٩) د افغان کلتوري تولني د کارونو لنډيز

**د مورنی ژبي نړيوالي ورځي تاريخچه**

د مورنی ژبي نړيواله ورځ هر کال د فبروري په ۲۱ مه لمانځل کيږي چي د ژبنی، کلتوري رنګارنګی او څوژبی زده کړي په باب خبرتيا لوړه شي.

د ۱۹۴۸ د مارچ په ۲۱ د پاکستان مشر محمد علي جناح اردو ژبه د پاکستان يوازني ژبه اعلان کړه، خو بنګله ديش (د هغه وخت ختيځ پاکستان) ته دا د منلو نه وه؛ خيله بنګالي ژبه يي هم په رسمياتو او زده کړو کي شامله غوښته. د پوهنتون زده کوونکو د جناح د پريکړي پر خلاف لاريونونه پيل کړل. پاکستاني پوليسو د ۱۹۵۲ کال د فبروري د ۲۱مي پر سوله ايز لاريون ډزي وکړي او د ډاکي د ملکي پوهنتون او طبي پوهنتون څو تنه محصلان يي شهيدان کړل.

دغه ورځ بيا بنګاليانو هر کال لمانځله او ملګرو ملتونو ته يي وړانديزونه وکړل چي د مورنی ژبي نړيواله ورځ دي شي.

د ۱۹۹۹ د نومبر په ۱۷ يونسکو په خپله لويه غونډه کي دا ورځ د مورنی ژبي نړيواله ورځ ونوموله چي د بنګله ديش د ژبي د حرکت د ورځي درنښت او دوام دی او اوس هر کال په توله نړی کي نمانځل کيږي. له ۲۰۰۰ کال راپدې خوا د دي ورځي لپاره يونسکو په دي ډول شعارونه ټاکلي دي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په خير و لولئ

- ✓ ۲۰۰۰ کال پرانستوني لمانځنه
- ✓ ۲۰۰۱ کال: دوهمه کلیزه لمانځنه
- ✓ ۲۰۰۲ کال: د ژبو رنګارنګي: ۳۰۰۰ ژبې د منځه تلو خطر سره مخ دي؛ د ژبو په اسمان کې هره کلیمه یو ستوری دی
- ✓ ۲۰۰۳ کال: څلورمه کلیزه لمانځنه
- ✓ ۲۰۰۴ کال: د ماشومانو زده کړه په مورنۍ ژبه .پدې کال د ماشومانو د زده کړې یو نندارتون جوړ شو
- ✓ ۲۰۰۵ کال: د معلولینو ژبه او اشاروي ژبې،Braille and sign languages
- ✓ ۲۰۰۶ کال: ژبې او نړیوال جال
- ✓ ۲۰۰۷ کال: د څو ګونو ژبو ښوونه او روزنه
- ✓ ۲۰۰۸ کال: د مورنیو ژبو نړیوال کال
- ✓ ۲۰۰۹ کال: لسمه کلیزه لمانځنه
- ✓ ۲۰۱۰ کال: د کلتورونو د تفاهم او نژدې کېدو نړیوال کال
- ✓ ۲۰۱۱ کال: د ژبو او ژبنی رنګارنګي د ساتنې او ودې لپاره معلوماتي ټکنالوژي او پوهاوی
- ✓ ۲۰۱۲ کال: د مورنۍ ژبې ښوونه او عمومي پوهنه
- ✓ ۲۰۱۳ کال: مورنۍ ژبه او کتابونه

**د مورنۍ ژبې ارزښت**

ژبې پر هویت، پوهاوي، ټولنیز یوځای کېدو او انکشاف باندې د ژورو اغیزو له امله د انسانانو او نړۍ لپاره د ستراتیژیک ارزښت لرونکي دي. اوس دا لا ډېره روښانه شوې ده چې ژبې په انکشاف، کلتوري رنګارنګۍ، د کلتورونو تر منځ د پوهاوي او همدا راز د باکیفیته پوهنې لپاره حیاتي رول لري. همداراز ژبې د همکارۍ، عمومي بشري شعور د څواکمنې او کلتوري میراثونو د ساتنې مهمې وسیلې دي. ژبنۍ رنګارنګي د ټولې نړۍ خلکو ته د ګډ ژوند، یووالي او ټولنیزې برابرۍ لپاره ستراتیژیک ارزښت لري. د مورنۍ ژبې د لمانځلو اهمیت  دا هم دی چې چې ژبنۍ او کلتوري رنګارنګۍ او څو ژبې زده کړې او پوهنه ترویج کړي، چې باید د پوهاوي، زغم او خبرو اترو پر بنسټ وي. څو ژبې زده کړه د باکیفیته پوهنې، په پوهنه کې د ټولو د شمول او د تبعیض په مخنیوي کې زموږ ملګرې ده. ژبنۍ رنګارنګي زموږ ګډ تاریخي میراث دی چې له خطره باید وساتل شي. څو ژبې پوهنه زموږ ګډه ژوندۍ علمي زیرمه ده چې په ګډه یې باید وساتو. ماشومانو ته باید په هغه ژبه زده کړې ورکړل شي چې دوی پرې ښه پوهیږي، ځکه دا دوی ته حیاتي ارزښت لري اوددې وس ورکوي چې له باکیفیته پوهنې خوند واخلي. مورنۍ ژبې زموږ لپاره عموما په څو دلایلو ډېره مهمې دي

۱) هره ژبه د الله (ج) د قدرت یوه نښه ده. هیڅ ژبه تر بلې ښه یا بده نه ده او هر یوه با ارزښته، درنه، خوږه او مهمه ده.

۲) په مورنۍ ژبه زده کړه د زده کړې په ټولو مرحلو کې یو بشري حق دی چې باید ټول زده کوونکي ترې برخمن شي. هره ژبه د بشریت د ګډ عقل/ پوهې او درک یوه شریکه پانګه ده او د یوې ژبې په له منځه تلو او کمزورې کېدو ټول بشري تفکر ته زیان اوړي.

۳) پوهنو او معلوماتو ته لاسرسی یو بشري حق دی؛ چې په مورنۍ ژبه کې تر هرې بلې ژبې ښه تر سره کیږي.

٤) ژبه د هویت او شناخت (پیژندنې) یوه مهمه برخه ده، چې یو بشري او الهي حق دی. موږ هغه څه یو چې زموږ ژبې دي، د ژبو په ساتلو موږ خپل ځانونه ساتو.

٥) تر ټولو مهمه خبره داده چې موږ ته په ملي کچه ګټې لري؛ هغه دا چې:

a. ملي وحدت/ ملي هویت مو پیاوړی کوي.

b. د هېواد متوازن علمي/ کلتوري پرمختګ ممکنوي.

c. د محرومیت او توپیر له منځه تګ سره مرسته کوي.

d. د دولت او خلکو تر منځ اړیکي ټینګوي.

e. په پوهنه او کلتور کې د ولسونو معقوله نماینده ګي تضمینوي.

f. د پرمختیایي منابعو عادلانه وېش ته زمینه جوړوي.

g. د ګیلو ګوذارو او ټولنیزو لانجو او ناندریو مخنیوی کوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د هري مورنۍ ژبې پرمختګ باید د زغم، پوهاوي او خبرو اترو په روحیه د نورو ژبو د متوازن پرمختګ سره یو ځای په پام کې ونیول شي.

**قانونیت: اسلامي او ملي احکام**

۱) قراني لارښود:

- وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْعَالِمِينَ. ترجمه : او (د الله) د قدرت له نښو څخه د اسمانونو او ځمکو پیدا کول او ستاسو د ژبو او رنګونو رنګارنګي ده. او په دې کې د پوهانو لپاره نښې شته. (الروم، ۲۲ ایت)
- وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاء كُلَّهَا. ترجمه : او (الله) ادم ته د ټولو شیانو نومونه ورښودل (البقره،
- خَلَقَ الإِنسَانَ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ. ترجمه : (الله) انسان پیدا کړ او ژبه یې ور زده کړه. الرحمن، ۳-٤ ایت
- وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ. ترجمه :او نه دی لیږلی موږ هېڅ یو پیغمبر، مګر د هماغه قوم په ژبه، چې (پیغام) دوی ته روښانه کړي. (الابراهیم)

**۲) د افغانستان اساسي قانون**

a. ۱۶ ماده : د پښتو، دري، ازبکي، ترکمني، بلوڅي، پشه یي، نورستاني، پامیري او په هېواد کې د نورو مروجو ژبو له جملې څخه پښتو او دري د دولت رسمي ژبې دي. په هغو سیمو کې چې د خلکو اکثریت یې له ازبکي، ترکمني، بلوڅي پشه یي، نورستاني او یا پامیري ژبو څخه پر یوې خبرې کوي، له پښتو او دري سربېره هغه ژبه درېیمه رسمي ژبه ده......دولت د افغانستان د ټولو ژبو د پیاوړتیا او پراختیا لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي.

b. ۴۳ ماده ماده :... دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او د منځنیو اجباري زده کړو د تامین لپاره اغېزمن

پروګرام طرح او تطبیق کړي او د مورنیو ژبو د تدریس لپاره په هغو سیمو کې چې پرې خبرې کېږي لاره هواره کړي.

۳) د افغانستان د پوهني نصاب: په ښوونځیو کې تدریس په هغو ژبو کېږي چې په اساسي قانون کې تسجیل شوي وي.۷ ماده

**د نړیوالو قوانینو له مخې د مورنۍ ژبې ارزښت**

۱) د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه: ټول انسانان خپلواک پیدا شوي او په حقوقو او پت کې مساوي دي. باید یو له بل سره د ورورولۍ په روحیه چلند وکړي. (لومړۍ ماده). میندې او پلرونه حق لري چې د ماشومانو لپاره یې د ښوونې او روزنې ډول غوره کړي. (۲٦ ماده، درېیم بند)

۲) د ماشومانو د حقوقو تړون CRC: د ماشوم مور و پلار ته؛ د ده خپل کلتور، ژبې او ارزښتونو ته؛ د هغه ملت ملي ارزښتونو ته چې ماشوم ورپورې اړه لري؛ هغه هېواد ته چې ماشوم په کې اوسیږي او یا اصلاً د هغه وي؛ او نورو تمدنونو ته (باید) درناوي رامنځته شي. (۱۷ ماده). ماشوم باید له خپلو دې حقوقو بې برخې نه شي چې له خپل کلتور څخه خوند واخلي، خپل مذهب ومني او عملي یې کړي او خپله ژبه وکاروي. (۳۰ ماده).

۳) د یونیسکو د مدیرانو جرګې اعلامیه: ....له دې کبله هر وګړی دا حق لري چې خپل ځان (خپل فکر) څرګند کړي او خپلې چارې او کارونه د

خپلې خوښې په ژبه، په تېره بیا په مورنۍ ژبه کې رامنځته او خپاره کړي. د ژبو د رنګارنګۍ د هڅونې تر څنګ او ورسره مورنۍ ژبې ته د زده کړې په هر پړاو کې درناوی او د څو ژبې زده کړې پالنه له ټنکي عمره په کار ده.

٤) د ملګرو ملتونو نور اړوند اسناد

a. د عمومي غونډې د ۱۹۹۲ د دسمبر ۱۸، ٤۷/۱۲٥ پرېکړه لیک
b. د ملګرو ملتونو منشور
c. د ډله ییزې وژنې او جرمونو د مخنیوي او جزا تړون
d. د نژادي توپیر د ټولو ډولونو پر ضد نړیوال تړون
e. د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

f. د اقتصادي، کلتوري او ټولنيزو حقوقو نړيول تړون
g. د مذهب او عقيدې پر بنسټ د هر ډول نازغمی او توپير پر ضد اعلاميه
h. او نور  اسناد چې په سيمه ييز ډول له اړونده دولتونو سره لاسليک شوي دي.

**ماشوم/ زده کوونکي ته په مورنۍ ژبه د زده کړې (پيداګوژيکي او اروايي)ګټې**

a. پيداګوژيکي ګټې يې دادي چې زده کوونکی چټکه زده کړه کوي، د لفظونو ذخيره يې زر پياوړې کيږي، د درس اساسي موضوع ژر اخلي او
ښه يې تعبيروي، د نورو ژبو زده کړه ورته اسانيږي، په تفاهم او پوهاوي کې پياوړی کيږي،  IQ يې لوړه روزل کيږي، له زده کړې ښه او پوره ګټه اخلي، او له نړيوالتوب سره اسان تطابق کولای شي.

b. اروايي ګټې يې دادي چې زده کوونکی پر ځان اعتماد او باور پيدا کوي، له اروايي عقدو خلاص وي، لوړ احساساتي لياقت (EI) پکې روزل
کيږي، د ناکامی او محروميت له احساس څخه خلاص وي، متوازن او حوصله لرونکی شخصيت  ترې جوړيږي.

د مورنۍ ژبې د ارزښت په باب په تېرو ۳۰ کلونو کې ۱۵۰ څېړنې شوي؛ چې د نتيجو لنډيز يې دا ډول دی :

- ✓ له ښوونځي څخه د ماشوم د مورنۍ ژبې ايستل، د ماشوم د ايستلو په معنی دی.
- ✓ که د ماشوم د مورنۍ ژبې پرمختيا ته پام وشي، د بلې ژبې او نورو علومو زده کړه اسانوي.
- ✓ د مورنۍ ژبې سره يو ځای د بلې ژبې پيل له کوچينوالي څخه يو پر بل ګټوره اغېزه لري.
- ✓ د ماشوم د مورنۍ ژبې د زده کړې پرمختګ د ماشوم نورې ورتياوې هم پياوړې کوي.
- ✓ هغه وخت چې د مورنۍ ژبې په زده کړه لګېږي د ماشوم د اکاډميکي ودې مخه نه نيسي بلکې پياوړې کوي يې.
- ✓ د ماشوم مورنۍ ژبه هغه وخت ډېره زيان منونکې ده چې له لومړني سره ورته په مورنۍ ژبه د زده کړې زمينه برابره نه شي.
- ✓ په مورنۍ ژبه زده کړه بايد له وړکتونه، بيا له ۱- ۱۲ ټولګې او بيا د پوهنتون په ټوله دوره کې برابره شي.

**(د ټورنټو پوهنتون استاد، جېن کومنس د څېړنو لنډيز)**

د نورو هېوادونو تجربې

هغه هېوادونه چې د مورنۍ ژبې ستونزه يې نه ده حل کړې، تل له ټولنيزو نارضايتيو، ناندريو او ستونزو سره مخ وو او دي، د بېلګې په توګه يې څو نومونه ياددو:  ايران، پاکستان، افغانستان، د منځنۍ اسيا هېوادونه او نور.

هغه هېوادونه چې دا ستونزه يې حل کړې ده، د نورو پرمختياوو پر مخ يې دروازې خلاصې کړې دي :

- سويټزرلېنډ کې څلور ژبې رسمي دي او يو با ثباته او آرام هيواد دی.
- د امريکا متحده ايالاتو کې ژبنی رنګارنګي قانوني ده او سيمه ايز وګړي پخپلو ژبو زده کړې کوي.
- کاناډا دوه رسمي ژبې لري او پوهنه او کار ټول په دواړو ژبو تر سره کيږي.
- سويډن کې که يو ماشوم هم وي، په مورنۍ ژبه يا د مورنۍ ژبې د زده کړې امکانات ورته برابروي.
- بلجيم کې که يو چا ته خپل د پيژندو کارت ورکړي او په يوه ژبه وي، بېرته يې درکوي او درته وايي، زما د هيواد دواړو رسمي ژبو ته بايد درناوی وکړې او کارت دې په دواړو ژبو وليکه .(که څه هم ليکل شوی ژبه دده مورنۍ ژبه وي).
- هندوستان د څو ګونو ژبو، قامونو او مذهبونو د يو سوله ايز هيواد يوه تر ټولو ښه بېلګه ده.
- اروپايي اتحاديې د څو ژبې او څو ملتيزه اروپا لپاره د ژبو يوه پاليسي جوړه کړې ده تر څو يقيني کړي، چې ټولو ته يو شان ارزښت ورکول
کيږي او هر قام يو شان اواز لري.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

- تایلند د ژبو یوه جامع پالیسي لري؛ چې د ملي، محلي او نړیوالو ژبو د توازن او تناسب بېلابېل اړخونه یې پکې روښانه کړي دي.

**د افغانستان واقعیتونه او ستونزې**

حقوق: د افغانستان د اساسي قانون او نورو معتبرو اسنادو له مخې ژبنی حق د بشري حقوقو د مهم جز په توګه پېژندل شوی دی. د پوهنې وزارت پدې برخه کې په کابل ښار کې یو څه لومړني کارونه پیل کړي دي چې اغېزمن او د قدر وړ دي. خو لا هم،

په عمل کې ډېرې ستونزې شته لکه:

- حکومت د افغانستان د فرهنګ د بڼ د ښکلو ګلانو یا ژبو لپاره کومه جامع ملي پالیسي نلري. د اساسي قانون احکام ارزښتمن خو عمومي دي.
- د ژبو او فرهنګ کومه ملي اداره او په اړونده وزارتونو کې ورته مسئولې څانګې نه شته.
- ژبه لا هم د سیاسي الې په توګه ګڼل کېږي او چارواکي زیاتره ویرېږي/ یا احتیاط کوي چې که په عمل کې د ولسونو ژبني حقونه اعاده شي
  دوی به د ځینو کړیو او ډلګیو تر نیوکو او فشار لاندې راشي.

- لا هم ډېرې سیمې او ډېر ماشومان له خپلو ژبنیو حقوقو او په مورنۍ ژبه د زده کړې له نعمت څخه بې برخې دي. (د ټولو زده کوونکیو نژدې نیمایي).
  - په کابل ښار کې په مورنۍ ژبه زده کړو ته د لاسرسي نشتوالی ډېر دی: په احمد شاه بابا مېنه، څرخي پل، هودخېلو، پکتیاکوټ، کارته نو،
  رحمن مېنه، سید نور محمد شاه مېنه، بګرامیو، قلعهٔ زمان خان، مکروریانو، چهلستون، دارالامان، خوشال خان مېنه، قرغه، د ښار نورو پاتې ناحیو او د ولایت په ولسوالیو کې په پښتو ژبه د زده کړو امکانات پخوا نه ووړ اوس که څه هم یو څه کار پیل شوی دی، خو بې باوره او شکمن دي، د دولت ژمنتیا ورته څرګنده نده او تر ډېره حده د اشخاصو په توجه پورې تړلی دی. پښتوژبې زده کوونکي پر کابل سربېره په کندز، تخار، بغلان، بلخ، سرپل، فاریاب، هرات، سمنګان، فراه او نورو ولایتونو کې هم له ژبنیو حقونو محروم دي.

  - په کابل کې د دریمو ژبو د ویونکو په باب نه متفقه پالیسي، نه پوره معلومات او نه هم کوم منظم پلان شته.
  - ازبکي او ترکمني ژبو ماشومانو ته په بلخ ، جوزجان، سمنګان، فاریاب، کندر، تخار، بدخشان او نورو ولایتونو کې عملي کار ورو او ټکنی دی.
  - بلوڅي ژبو زده کوونکو ته په نیمروز ولایت کې توجه نه ده شوې.
  - نورستاني زده کوونکو ته په خپل ولایت کې پخپله ژبه زده کړه نشته.
  - پشه یي زده کوونکي په لغمان او ننګرهار کې خپلو ژبنیو حقوقو ته نه دي رسیدلي.
  
  حل لارې او وړاندیزونه

په افغانستان کې د مورنیو ژبو د ښه او جامع پرمختګ لار داده چې دولت، ولس، نادولتي ټولنې او نړیوالې خیریه اداري خپلې دندې او مسولیتونه وپېژني، مشخص یې کړي، د عملي کولو لپاره یې تعهد وکړي او د عمل پلانونه جوړ او پلي کړي.

- دولت او حکومت دی:

– د افغانستان د ژبو لپاره دې جامع، ملي پالیسي جوړه کړي، چې پکې د ملي ژبو د ملي، سراسري او محلي رسمیتوب پولې، د زده کړو د
اندازې، د ملي او بهرنیو ژبو د توازن، په زده کړه، دولتي ادارو او نادولتي چارو کې د ژبو د کارولو او نورو اړوندو برخو په باب روښانه لارښوونکي اصول وضع کړي.

– د دولت د ریاست په چوکاټ کې دې د افغانستان د فرهنګ او ژبو د پرمختګ او ملاتړ یوه ملي اداره جوړه او لازم صلاحیتونه او امکانات دې ورکړل شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

- د پوهني، لوړو زده کړو او فرهنګ وزارتونو او نورو اړونده ادارو کې دې د مورنيو ژبو د ودې او ملاتړ اداري جوړې شي.
- ژبه دې د سياسي الې په توګه نه کټل کيږي او د يو بنسټي بشري حق په توګه دې وګڼل شي.
- په مورنۍ ژبه زده کړو ته د لاسرسي په برخه کې موجودې سترې ستونزې دې په جدي ډول په پام کې ونيول شي؛ هغه سيمې او ماشومان
چې له خپلو ژبنيو حقوقو او په مورنۍ ژبه د زده کړې له نعمت څخه بې برخې دي، بايد د دې هيواد د مساوي الحقوقو زامنو په څير وګڼل

شي او دغه حق دې ور اعاده شي.

- په کابل ښار او ټولو ولايتونو کې په مورنۍ ژبه زده کړو ته د لاسرسي لپاره دې دولت او حکومت د حل د عملي لارو چارو کار پياوړی او پراخ کړي.
- په پوهنه او لوړو زده کړو کې د ژبنيو حقوقو د تاءمين د دايمي حل لپاره دې د پوهني او لوړو زده کړو نصابونه په ملي کچه دوه ژبي (پښتو
او دري) شي. په سيمو او ولايتونو کې دې ورسره دريمې رسمي ژبې هم شاملې شي.

- نادولتي اداری او نړيوالي خيريه اداری دې د افغانستان له دولت او خلکو سره مرسته وکړي، چې د مورنيو ژبو د ساتنې، زده کړو او بداينې په کار کې خپلې هڅې منظمې، منسجمې او اغيزمنې کړي.
- ولس دې خپل ژبنی حقونه او د خپلو اولادونو د مورنی ژبې حق وپيژني او له اړونده دولتي او نادولتي ادارو دې وغواړي چې د دغه حق په عملي کولو کې جدي، زړور، بيړني او موثر اقدامات وکړي.
- رسنۍ دې چارواکو او نړيوالو ادرو ته د ولس د غږ په رسولو کې مرسته وکړي.

**د مورنۍ ژبې په باب د افغان کلتوري ټولنې د کارونو لنډيز**

۱) له پوهني وزارت سره د منظم کار له امله اوس په کابل ښار کې ۱۲۰۰۰۰ ماشومان په خپله مورنۍ ژبه زده کړې کوي، چې پخوا ورته دا حق نه و ورکړل شوی.
۲) د ولس تر منځ د خبرتيا او ملاتړ جلبوني پراخ او اغيزناک کار شوی او دوام لري
۳) د افغانستان د ژبو او فرهنګ د پراختيا او ساتني ملي بنسټ جوړ شوی چې د ټولو ژبو ويونکي پوهان پکې راټول شوي دي.
٤) ماشومانو ته پخپله مورنۍ ژبه په لسګونو کتابونه چاپ شوي دي.
٥) د مورنۍ ژبې د مسلې د تعقيب لپاره له تېرو اتو کلونو راپدې خوا يو منظم ټيم کار کوي.
٦) له اړوندو حکومتي چارواکو، د ملي شورا له غړو، سياسي، قومي، فرهنګي مشرانو او د ټولنې له موثرو اشخاصو سره تفاهم شوی او ښې نتيجې ترې لاس ته راغلي دي.
۷) هر کال د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ په ډير اغيزناک ډول لمانځل شوي ده. تر ټولو اغيزناکه لمانځنه هغه وه چې د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ د لويې جرګې په خيمه کې په ډېر شانداره ډول ولمانځل شوه، په زرګونو کسانو پکې برخه واخسته او دا يې مسئولينو ته وروښوده چې په
مورنۍ ژبه د زده کړو غوښتنه يوه ملي غوښتنه ده.
۸) د کابل ښار په اوو ناحيو کې د پوهني د ملاتړ شورا ګاني جوړې شوي دي.
۹) د پوهني سلاکاره شورا جوړه شوې؛ چې د پوهني وزارت سره په مورنۍ ژبه د زده کړې په اړه کار کوي.
۱۰) د کابل ولايت په ولسواليو او ځينو شمالي ولايتونو کې په مورنۍ ژبه د زده کړې کار روان دی. همدا راز په لوړو زده کړو کې په مورنۍ ژبه د زده کړو کار پيل شوی، د استادانو يوه منئمه شورا يې سرپرستي او څارنه کوي او ډير ژر به کار بهتر او اغيزناک شي.

ومن الله التوفق

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په څير و لولئ